Information pack for refugees

# Refugee Council
## help and advice

Pushto

# دکډوالو لپاره
# معلوماتي ټولګه

**March 2010**

British Refugee Council, (commonly called the Refugee Council) is a company limited by guarantee registered in England and Wales, [No 2727514] and a registered charity, [No 1014576].
Registered office: 240-250 Ferndale Road, London SW9 8BB, United Kingdom
VAT no: 936 519 988

## سریزه

د دې معلوماتي ټولګې هدف د هغو خلکو سره مرسته کول دي چې په بریتانیا کې د پناه اخیستلو غوښتنه کوي او د پاتې کېدو اجازه ورته ورکړای شوې وي. که چیرې تاسې ته د کډوالۍ د حېثیت (refugee status)، بشري تحفظ (humanitarian protection)، اختیاري اجازه (discretionary leave) او یا د پاتې کېدلو لپاره ناټاکلې اجازه (indefinite leave to remain) درکړل شوې وي نو تاسې د هغو حقونو او خدمتونو څخه برخمن کېږئ کومو نه چې د بریتانیې نور اوسېدونکي او اتباع برخمن دي. تاسې د کارکولو حق لرئ، د روغتیایي خدمتونو څخه ګټه اخیستلای شئ، د هستوګنځي او نورو مالي مرستو لپاره لکه څنګه چې د بریتانیا نور اوسېدونکي غوښتنلیکونه سپاري، تاسې هم کټ مټ هماغه ډول غوښتنلیکونه سپارلی شئ. په یاد ولرئ که چیرې په بریتانیا کې ستاسې د پاتې کېدو د اجازې وخت په یو څو میاشتو کې پای ته رسېږي نو تاسې باید د یوې قانوني مشورې په ترڅ کې د دغه مودې د اوږدولو غوښتنه وکړئ. وګورئ برخه ۹، *قانوني مشوره.*

د دې ټولګې معلومات په ډېره پراخه بڼه نه دي ترتیب شوي ځکه د هر سړي د کډوالۍ حالت د بل څخه توپیر لري نو ځکه خو بیلابیلو مشورو ته ضرورت پېښیږي. خو بیا هم موږ هیله لرو چې دغه راټول شوي معلومات به ستاسې د ځینو بیړنیو ضرروتونو په حل کې له تاسې سره مرسته وکړي.

داسې ډېرې اداري شته چې تاسې ته ښې تفصیلي مشورې درکړي، لکه د وګړیو د مشورتي خدمتونو اداره (Citizen's Advice Service). ډېره مهمه ده چې خپلې سیمې ته نږدې اداري ته مراجعه وکړئ. له دې ټولګې سره به تاسې ته ستاسې د اوسېدو په ځای کې د وګړیو د مشورتي بیورو (Citizens Advice Bureau) دکارموندنې دفتر (Jobcentre Plus)، حقوقي مرکز (Law Centre) او د هستوګنځیو دفتر (Housing office) په هکله معلومات درکړل شي. موږ په دې ټولګه کې د یو شمېر ګټورو ویب پاڼو ادرسونه هم ورکړي دي. که چیرې تاسې کمپیوټر ته لاسرسی نه لرئ نو په خپله سیمه کې د محلي کتابتون او یا ټولنیز مرکز څخه ګټه اخیستلای شئ.

### منځپانګه

په دې ټولګه کې تاسې لاندې معلومات موندلای شئ:

۱. رسمي اسناد
۲. د ښیګڼې ګټې اومالیاتي اعتبارونه
۳. هستوګنځي
٤. روغتیایي پاملرنه
٥. د لویانو لپاره زده کړې
٦. د سفر اسناد
۷. د کورنۍ بیا یوځای کېدنه
۸. د یوبانکي حساب پرانیستل
۹. قانوني مشوره

### له کوم ځای مشوره ترلاسه کړئ

کله چې تاسې ته په بریتانیا کې د پاتې کېدو اجازه درکړای شي، نو ډېره ضروري ده چې مرسته او مشوره ترلاسه کړئ څو هغو خدمتونو ته لاسرسی پیدا کړئ چې تاسې یې مستحق یاست. داسې بې شمېره اداري شته چې خلکو ته وړیا مشورې او معلومات ورکوي. د مشورې لاس ته راوړل کېدای شي ډېر وخت واخلي، نو باید انتظار ایستلو ته تیار اوسئ او یا بله ورځ راشئ. په یاد ولرئ چې باید هر وخت خپل اسناد له ځانه سره ولرئ. د مثال په ډول د بریتانیا د سرحدونو د ادارې (UK Border Agency) اسناد او همداشان د نورو ادارو او نماینده ګیو څخه اخیستل شوي مکتوبونه هم باید له ځان سره ولرئ.

### ژباړونکي

که چیرې تاسې په انګریزي ژبه خبرې نشئ کولای نو له مختلفو ادارو څخه غوښتنه کولای شئ څو تاسې ته ژباړن استخدام کړي. داسې ډېرې سیمه ایزې او ملي اداري شته چې ستاسې سره د ژباړن داستخداملو په مورد کې مرسته وکړي څو تاسې ضروري خدمتونه ترلاسه کړئ.

### د معلوماتو سرچینې

د زده کړې او کارموندنې، هستوګنځي، د ښیګڼو د ګټو او داسې نورو موضوعاتو په اړه چې په کډوالۍ پورې تړاو لري معلومات د کډوالو پخپله ژبه په دې انټرنیټي ادرس ترلاسه کېدای شي:
. http://languages.refugeecouncil.org.uk

د کارموندنې، هستوګنځیو او یا حقوقي سیستم په هکله پراخ معلومات او لاربښوونې په دې انټرنیټي ادرس پیدا کولای شئ www.citizensadvice.org.uk. (دغه معلومات یواځې په انګلیسي ژبه دي.)
کیدای شي ستاسې سیمه ایز کتابتون او د سیمه ایزو ادارو ویب پاڼې ډېر ګټور معلومات ولري.

***د دې ټولګې معلومات د چاپ په وخت کې صحیح دي اما کیدای شي وروسته یکې تغییرات راوستل شي.***

**که چیرې تاسې د پناه غوښتنې پریکړه ترلاسه کړې وي او اوس په کوم هستوګنځي کې چې د بریتانیې د سرحدونو د ادارې (UK Border Agency - UKBA) لخوا درکړل شوي وي، اوسېږئ اویا هم د (UKBA) د ادارې لخوا مرسته ترلاسه کوئ نو دغه مرستې او د هستوګنې موده به په ۲۸ ورځو کې پای ته ورسېږي. بیا باید تاسې خپل هستوګنځي ته کډه وکړئ ترڅو نورې مرستې ترلاسه کړئ.**

## ۱. رسمي اسناد:

کله چې تاسې د کارموندنې د ښیګڼو د ګټو او یا هم د هستوګنځي لپاره غوښتنلیک سپارئ له تاسې به غوښتنه وشي چې خپل هویت ثابت کړئ او داهم ثابته کړئ چې تاسې د دغو خدمتونو حق لرئ که نه. کله چې تاسې ته اجازه درکول کېږي چې په بریتانیا کې پاتې شئ نو تاسې ته لاندې اسناد درکول کېږي چې باید د ضرورت په وخت کې یې ښکاره کړئ.

### د پناه غوښتنې د ادعا ثابتوونکی لیک (Determination of asylum claim letter)

که تاسې د پناه غوښتنې د ادعا په مقابل کې مثبته پریکړه ترلاسه کړئ نو د بریتانیا دسرحدونو اداره (UK Border Agency - UKBA) به تاسې ته یو لیک درکړي. په دې لیک کې به ویل شوي وي چې تاسې کوم ډول پریکړه ترلاسه کړې ده: د کډوالۍ حېثیت، د بشري تحفظ، اختیاري اجازه او یا د پاتې کېدلو لپاره ناټاکلې اجازه. خو دا لیک دا خبره نه ثابتوي چې تاسې مثبته پریکړه ترلاسه کړې ده.

### د کډوالۍ د حېثیت سند (Immigration Status Document)

دا یو رسمي سند دی چې د UKBA لخوا تاسې ته صادرېږي او ستاسې هویت او د کډوالۍ حېثیت تصدیقوي. په دغه سند کې به ستاسې یو عکس، ستاسې پېژندنه (شهرت)، حېثیت او همداشان ستاسې لپاره په بریتانیا کې دپاتې کېدو موده ذکر شوې وي. تاسې به دا سند د مثبتې پریکړې له اخیستلو سره سم ترلاسه کړئ. که چیرې تاسې ته دا سند در ونه لېږل شي نو د هغه تلیفوني شمېرې سره چې ستاسې *د پناه غوښتنې د ادعا ثابتوونکي لیک* کې لیکل شوې ده اړیکه ونیسئ او په هکله یې پوښتنه وکړئ. UKBA د دې سند د تکمیل لپاره ښایي له تاسې نه دعکسونو د ورلېږلو غوښتنه وکړي. دا سند ستاسې د مثبتې پریکړې ثابتوونکی دی.

### د NASS د فسخې لیک (NASS Termination Letter)

که چیرې تاسې له UKBA څخه مالي/د هستوګنځي مرسته ترلاسه کوئ او د خپل غوښتنلیک په اړه مو پریکړه اخیستې وي، نو دغه مرسته درکول به په ۲۸ ورځو کې پای ته ورسېږي. UKBA تاسې ته یو لیک دراستوي چې په هغې کې د دغه مرستې د مودې پای ته رسېدنه ذکر شوې وي. او دا هم ذکر شوي وي چې تاسې به کله د اخیر ځل لپاره مالي مرسته ترلاسه کړئ. خو دا لیک د دې ثبوت نه دي چې له تاسې سره د UKBA ملاتړ پای ته رسېدلی دی.

### NASS 35

که تاسې له UKBA څخه مرسته ترلاسه کوئ نو د مثبتې پریکړې د اخیستلو وروسته به له همدغه ادارې څخه د NASS 35 فورمه ترلاسه کړئ. په دغه سند کې به ستاسې عکس وي او دا موضوع به هم پکې یاده شوې وي چې تاسې څه ډول مرسته ترلاسه کوئ. د هستوګنځي او د ښیګڼو د ګټو د لاس ته راوړلو لپاره تاسې دې فورمې ته ضرورت لرئ. که چیرې تاسې ته خبر درکړای شي چې ستاسې د پناه غوښتنې ملاتړ پای ته رسېدونکی دی مګر دا فورمه مو نه وي ترلاسه کړې نو تاسې په دې شمېره زنګ ووهئ .1739 602 0845

### د ملي بیمې شمیره

د ملي بیمې شمیره (NI) یوه ځانګړې پیژندونکي شمیره ده چې تاسې ورته په بریتانیا کې د کارموندنې او مرستو لاس ته راوړنو په وخت کې ضرورت لرئ. د دغه شمیرې د اخیستنې لپاره باید UKBA ته غوښتنلیک ورکړئ. تاسې د دغه شمیرې په لاس ته راوړنه کې د هغه تلیفوني شمېرې سره اړیکه ونیسئ کومه چې ستاسې د حېثیت ښوونکي لیک کې لیکل شوې وي. که چیرې مو UKBA ته د دغه شمېرې د لاس ته راوړنې

لپاره غوښتنلیک نه وي سپارلی او تاسې کار کول غواړئ نو په دې شمېره 643 6000 0845 د UKBA سره اړیکه ټینګه کړئ او د ملي بیمې د شمېرې د اخیستلو غوښتنه ترې وکړئ. تاسې نه به غوښتنه وشي چې د مرکې لپاره د کارموندنې دفتر (Jobcentre Plus) ته ورشئ (دوهمه برخه وګورئ). په چټکۍ سره د NI د شمیرې اخیستنه ډېره مهمه ده.

**باید په پام کې ولرئ چې خپل اصلي سندونه له دې پرته چې درڅخه وغوښتل شي د پوستې له لارې مه استوئ. که چیرې تاسې نه د اصلي اسنادو د لېږلو غوښتنه وشي نو د پوست خونې څخه غوښتنه وکړئ چې ستاسې اسناد د راجستر شوې پوستې (registered post) له لارې واستوي. په زیاتره حالاتو کې به ستاسې د اسنادو فوټوکاپي ومنل شي.**

## ۲. د ښیګڼو ګټې او مالي اعتبار (Welfare benefits او tax credits)

د بریتانیا حکومت  هغو خلکو ته چې هیڅ عاید و نه لري یو اندازه ټاکلی معاش ورکوي تر څو خپل ابتدائي ضروریات پرې رفع کړي. دغه ټاکلی معاش د ښیګڼودګټې په نامه یادېږي.

حکومت همدا راز هغه خلکو ته چې کار کوي مګر ډېر لږ عاید لاس ته راوړي یو اندازه مدد معاش ورکوي چې د مالي اعتبار په نامه یادېږي.

**ما دپناه اخیستنې غوښتنلک سپارلی او مثبته پریکړه راته راکړل شوې، او زه یو اندازه ملاتړ ته ضرورت لرم؛ آیا زه د ښینګڼو ګټې ترلاسه کولی شم؟**

هغه خلکو ته چې د کډوالۍ حېثیت، د بشري تحفظ، اختیاري اجازه او یا د پاتې کېدلو لپاره د ناټاکلې اجازې پر بنسټ مثبته پریکړه ورکړل شوې وي د ښیګڼو ګټې لاس ته راوړی شي. که چیرې تاسې لدې امله د ملاتړ غوښتونکي یاست چې تاسې بېکاره یاست او عاید نلرئ نو تاسې باید دغه معلومات یوې حکومتي ادارې ته چې د کارموندنې د ادارې په نامه یادېږي تسلیم کړئ. د دغه معلوماتو تسلیمولو ته د دعوې اقامه کول او یا د ښیګڼو د ګټو د لاس ته راوړنې غوښتنلیک وایي.

د ښیګڼو د ګټو اندازه ستاسې په شخصي وضعیت پورې اړه لري. که چیرې تاسې مېرمن ولرئ، یا ماشومان ولرئ نوبه دغه اندازه کې هرو مرو تغییرات واردېږي.

هغه خلک چې د کارکولو په عمر کې قرار ولري د هغوی لپاره درې بنسټیزې ګټې موجودې دي. تاسې ته به هره دوه اونۍ یو ټاکلی مدد معاش درکول کېږي چې ستاسې لومړني ضروریات پرې رفع شي. دا پدې ډول دی:

- **دکارلټوونکو لپاره مرسته (Jobseeker's Allowance)**

دغه معاش به هغه چاته ورکول کېږي چې دکارکولو جوګه وياو په کار پسې ګرځي خو دنده نلري. هغه خلک چې د کارموندنې دفتر ته ثابته کړای شي چې دوی په کار پسې ګرځېدلي دغه ښیګڼه ترلاسه کوي.

تاسې کولای شئحد اکثر په اونۍ کې د شپاړسو ساعتونو لپاره د انګریزي ژبې دزده کړې کورس او یا پوهنځي ته ولاړ شئ او د کارلټوونکو لپاره مرسته هم واخلئ. که چیرې تاسې په اونۍ کې د ١٦ ساعتو نو څخه د لږ وخت لپاره کار کوئ نو تاسې هم دغه معاش لاس ته راوړلی شئ.

- **دکارکولو ملاتړ مرسته (Employment Support Allowance)**

دا مرسته د هغو خلکو سره کېږي چې کارنشي کولای،او لامل یې ناروغي یا کوم معیوبیت وي چې کارکول ورسره مشکل وي. که تاسې غواړئ د دې مرستې لپاره عریضه وکړئ باید د خپلې ناروغۍ په هکله د خپل ډاکټر په لاسلیک طبي او روغتیایي اسناد ولرئ څو ستاسې ناروغتیا ثابته شي. د کارموندنې دفتر باید تصمیم ونیسي چې ایا تاسې د کومې روغتیایي ستونزې او معیوبیت په درلودلو سره هم کارکولای شئ که نه. د دغه مرستو په پای ته رسولو کې نوموړی دفتر ازادانه تصمیم نیولی شي.

- **مالي ملاتړ (Income Support)**

دا مرسته د هغه ځانګړی پلار یا مور لپاره ده چې کوچني ماشومان ولري. حکومت دغه مرسته ځکه ورکوي چې پوهېږي د یوه کس لپاره ډېره ستونزمنه ده چې د ماشومانو څخه مراقبت وکړي. ځانګړی پلار یا مور ضرورت نلري چې د کارموندنې دفتر ته ثابته کړي چې دوی په کار پسې ګرځېدلي دي.

هغه خلک چې د کډوال حېثیت ولري او د یوکال څخه کمې مودې راهیسې په بریتانیا کې اوسېږي کولای شي د مالي ملاتړ غوښتونکي شي. او په دوامداره ډول د انګلیسي ټولګي ته ولاړ شي. یانې مخکې له دې نه چې د مالي مرستې غوښتونکی شي په اونۍ کې د ١٦ ساعتونو څخه د زیاتې مودې لپاره باید د ژبې کورس ته تللی وي.

کله کله د پورته ذکر شوي دوامداره کورس موندل ډېر ستونزمن وي. نو تاسې کولای شئ چې د مالي مرستې له غوښتنې څخه د مخه د بل ډول مرستو غوښتونکي شئ. او د دوامداره کورس موندنې ته انتظار و باسئ.

### د ښیګڼو د ګټو لپاره څنګه غوښتنلیک سپارلی شم؟

ددې لپاره چې د کارلټوونکو لپاره مرسته، د کارکولو د ملاتړ مرسته او مالي ملاتړ ترلاسه کړئ نو باید **0800 055 66 88** شمېرې سره اړیکه ونیسئ او د مشاور سره خبرې وکړئ. که چیرې تاسې په انګلیسي خبرې نه شئ کولای نو کوم دوست ته ووایئ چې ستاسې په نماینده ګئ خبرې وکړي.

### زما عمر د کارکولو د سن څخه لو ړ دی نو زه باید د کوم ډول مرستې لپاره عریضه وکړم؟

که چیرې تاسې د ٦٠ کلو او یا ترې زیات یاست نو تاسې کولای شئ چې د تقاعد د پیسو د اعتبار ( Pension Credit) غوښتنه وکړئ. تاسې دغه غوښتنه په دې تلیفوني شمېره 234 991 0800 ترسره کولای شئ. که تاسې په انګلیسي خبرې نه شئ کولای نو د مشاور سره یو وخت وټاکئ څو لږ وروسته درسره د یو ژباړونکي په موجودیت کې خبرې وکړي. تاسې کولای شئ د غوښتنې څخه د مخکینو درې میاشتو پیسې لاس ته راوړئ . کله چې په تلیفون خبرې کوئ نو باید ددې کار کولو غوښتنه وکړئ.

### زه غواړم د ښیګڼو د ګټو غوښتنه وکړم خو د بیمي ملي (National Insurance) شمیره نه لرم، ایا سره له دې هم کولای شم غوښتنه وکړم؟

هو، داممکنه ده چې د بیمې د شمیرې له درلودلو پرته د ځینو مرستو غوښتنه وکړئ. خو د دې لپاره چې مرستې تر لاسه کړئ او وکولای شئ چې په بریتانیا کې دکار کولوفرصت ترلاسه کړئ نو باید د بیمې شمیره ولرئ. د بیمې د شمیرې د نه درلودلو په صورت کې په رسمي بڼه د ښیګڼو د ترلاسه کولو لپاره غوښتنه کولای شئ مګر د مرستو لاس ته راوړنه د بیمې شمیرې د درلودو پرته ممکنه نه ده. خو د مرستې د لاس ته راوړنې لپاره په غوښتنه کې ځنډ مه کوئ که نه نو بیا به مرستې د لاسه ورکړئ.

### په څومره وخت کې کولای شم خپلې مرستې ترلاسه کړم؟

د ښیګڼو مرستې د غوښتنلیک د سپارلو سره سمدلاسه نه ورکول کېږي. اداري پروسه یې د ٢٨ یا لږ څه ډېرو ورځو په ترڅ کې بشپړېږي. د دغه وخت په جریان کې به تاسې هیڅ ډول مرسته ترلاسه نه کړئ. خو کله چې پروسه بشپړه شوه نو تاسې ته به مرسته دکومې ورځې څخه چې تاسې عریضه کړې وه حواله شي.

ډېری مرستې په مستقیم ډول د بانکي حسابونو له لارې ورکول کېږي. که چیرې بانکي حساب ونه لرئ نو کولای شئ چې د پوست خونې د کارت حساب پرانیزئ. په دې اړه د معلوماتو لپاره ١٥ صفحه وګورئ.

که چیرې تاسې هیڅ عاید نلرئ او مالې مرستې ته په بیړني ډول ضرورت ولرئ نو **د بحراني حالت د پور (Crisis Loan)** په هکله معلومات په ٦ صفحه کې وګورئ.

### ما د ډېر وخت راهیسې مرستې نه دي ترلاسه کړې، نو څه باید وکړم؟

که چیرې تاسې له ډیرې مودې را په دېخوا انتظار ایستلی وي او مرسته مو نه وي ترلاسه کړې، نو د کارموندنې د دفتر څخه پوښتنه وکړئ او وګورئ چې ایا هغه ټول معلومات چې دوی یې ضروري ګڼي بشپړ ورته رسېدلي دي که نه. تاسې داسې هم کولای شئ چې د لنډمهالې مرستې (Interim Payment) څخه کار واخلئ. شپږمه پاڼه وګورئ

## د کارموندنې دفتر (Jobcentre Plus)

د کارموندنې دفترونه ډېرې د ښـيګڼو د ګټو تنظیم او اداري مسؤولیت په غاړه لري. او د خلکو سره د کار او دندې په موندلو کې مرسته کوي. دغه دفترونه په مختلفو سیمو کې د عمومي واټونوپه څنګ کې پراته دي. او ښـيګڼو دګټو لپاره د اړیکو مرکزونه ګڼل کېږي.

که چیرې تاسې د کارلټوونکو د مرستې، مالي ملاتړ او یا د کار کولو د مرستې لپاره د تلیفون له لارې غوښتنه کړې وي نو تاسې نه غوښتل کېږي چې د کارموندنې دفتر ته خپله ورشئ او هغه څه چې مو په تلیفون ویلي دي تصدیق کړئ. ډېره مهمه ده چې هر هغه څه چې تاسې ته د کارموندنې د دفتر لخوا ویل کېږي عمل پرې وکړئ، څکه که داسې ونه کړئ نو په تاسې به دغه مرستې بندې کړای شي.

که چیرې تاسې د خپلو مرستو په لاس ته راوړلو کې ستونزې لرئ نو باید د خپل سیمه ایز کارموندنې د دفتر سره اړیکه ونیسئ، که چیرې دوی ستاسې ستونزه حل نشي کړای، نو هغه سندونه چې تاسې له دغه ادارو څخه ترلاسه کړي وګورئ او کومې د ټلیفون شمېرې چې پکې لیکل شوې وي اړیکه ورسره ونیسئ. که چیرې تاسې د خپلو اسنادو کاپي ته ضرورت لرئ نو د کارموندنې دفتر کولای شي تاسې ته تصدیق شوې کاپي جوړې کړي. دغه طریقه په پوست کې د رسمي اسنادو د لېږلو څخه بهتره ده.

## د کورنیو او ماشومانو لپاره مرستې او ښـيګڼې

### زه ماشومان لرم، ایا زه به وکولای شم چې اضافي مرسته ترلاسه کړم؟

که چیرې تاسې ماشومان لرئ، حامله یئ او یا مو ډېر ژر ماشوم کېدونکی وي نو کولای شئ د اضافي مرستې غوښتونکي شئ. دغه مرستې ټولو هغو والدینو ته ورکول کېږي چې د کډوالۍ حېثیت، بشري تحفظ، اختیاري اجازه او یا د پاتې کېدلو لپاره ناټاکلې اجازه ولري.

- **د ماشومانو لپاره مرستې (Child Benefit)**

که چیرې تاسې داسې ماشومان لرئ چې د ۱۹ کلونو څخه کم عمره وي نو کیدای شي تاسې د ماشومانو د مرستو د اخیستلو مستحق وګڼل شئ. که ستاسې ماشومان د ۱٦ کلونو څخه کم عمره وي نو بیا د ماشومانو د مرستو د ترلاسه کولو مستحق یاست.

کولای شئ د ماشومانو د مرستو د لاس ته راوړنې لپاره څانګړې فورمې ډکې کړئ. که غواړئ دغه فورمه بیاموئ نو د ماشومانو د مرستو د ټلیفون شمېرې (Child Benefit Helpline) 0845 302 1444 ته زنګ ووهئ او یا هم د دې انټرنیټي پتې څخه یې په انلاین ډول لاس ته راو ړئ www.direct.gov.uk. او بیا هغه فورمه چاپ کړئ.

که تاسې د ماشومانو د مرستې د لاس ته راوړنې لپاره د مثبتې پریکړې څخه وروسته په درې میاشتو کې دننه دنه عریضه وکړئ نو ستاسې مرستې به له هغه ورځې څخه حساب شي چې پناه مو غوښتلې وه. کله چې د ماشومانو د مرستو فورمه ډکوئ نو باید دغه موضوع پکې یاده کړئ اویا یې په بل کاغذ کې ولیکئ او د فورمې سره یې ضمیمه کړئ.

- **دماشومانو مالي اعتبار (Child Tax Credit)**

د ماشومانو مالي اعتبار هغو ماشوم لرونکو خلکو ته ورکول کېږي چې لږ عاید ولري او یا د ښـيګڼو ګټې اخلي. د کارموندنې دفتر کولای شي تاسې سره د عریضې په ترتیبولو کې مرسته وکړي، او ستاسې مرستې او حقوق به له هغه ورځې حساب کړای شي له کومې ورځې چې تاسې پناه غوښتلې وه (تیرشوی متن وګورئ). که چیرې تاسې د کار دفتر څخه د مرستو په لاس ته راوړلو کې ستونزې لرئ نو کولای شئ د ماشومانو د مالي اعتبار د مرستو ټلیفوني شمېرې 0845 300 3900 ته زنګ ووهئ او فورمه ترېنه وغواړئ.

- **نسائي ولادي مرستې (Maternity Grant)**

که چیرې تاسې د ښیگڼو گټې ترلاسه کوئ او په راتلونکو ۱۱ اونیو کې مو ماشوم پېدا کېدونکی وي اویا مو د تېرو درې میاشتو په دوره کې ماشوم زېږیدلی وي نو د یو ځل لپاره به د ۵۰۰ پونډو په شا او خوا کې مرسته درسره وشي. د درخواست لپاره کولای شئ فورمه د کارموندنې له نږدې دفتر څخه لاس ته راو ړئ.

- **د امیندوارۍ اړوند روغتیایي مرستې (Health in Pregnancy Grant)**

که چیرې تاسې لږ ترلږه د ۲۵ اونیو حمل ولرئ نو د ۱۹۰ پونډو په شا اوخوا کې مرسته لاس ته راوړی شې. د خپل ډاکټر او یا قابلې څخه د فورمې غوښتنه وکړئ ځکه یو ه برخه یې باید هغوی ډکه کړي .که چیرې ستاسې ډاکټر او قابله دغه فورمې و نه لري نو په دې شمېره 0845 366 7885 اړیکه ونیسئ چې وروسته به فورمه ستاسې ډاکټر یا قابلې ته واستول شي.

**زه له معیوبیت څخه رنځ وړم او ضرورت لرم چې څوک مې پالنه وکړي، ایا زه اضافي مرستې ترلاسه کولای شم؟**

که چیرې تاسې کومه ناروغتیا او یا معیوبیت لرئ او دومره شدیده وي چې تاسې د پالنې لپاره چاته ضرورت ولرئ، یا تاسې گرځېدلی نه شئ، نو ممکنه ده چې اضافي مرستې ترلاسه کړئ. دغه مرستې د معیوبیت حیاتي مرستې (Disability Living Allowance) یا دپالنې د مرستې (Attendance Allowance) په نامه یادېږي. تاسې باید فورمه ډکه کړئ. کولای شئ فورمه د کارموندنې له دفتر څخه ترلاسه کړئ. همداشان کولای شئ چې د گټو د پوښتنو گروپېږنو شمېرې (Benefit Enquiry Line) سره په 0800 882 200 اړیکه ټینگه کړئ.

که چیرې تاسې د کوم معیوب، چې دغه پورته یادې شوې مرستې لاس ته راوړي، پالونکي یاست نو تاسې به هم اضافي مرستې لاس ته راوړئ چې دغه اضافي مرسته د پالونکي د مرستو (Carer’s Allowance) په نامه یادېږي. کولای شئ فورمه د کارموندنې له دفتر څخه ترلاسه کړئ. همداشان کولای شئ چې د گټو د پوښتنو گروپېړنو شمېرې سره اړیکه ټینگه کړئ.

که چیرې تاسې د ښیگڼو نورې مرستې ترلاسه کوئ نو تاسې د پالونکي د مرستو مستحق نه گڼل کېږئ. مگر د خپلې موجودې مرستې څخه اضافه به نوره مرسته درکړل شي. که تاسې د پالونکي مرستې ترلاسه کوئ نو دا په دې مانا ده چې د هغه چا پالنه چې تاسې کوئ ستاسې په نسبت لږې مرستې ترلاسه کوي. د گټو د پوښتنو گروپېړنو شمېرې سره د دې لپاره چې پوه شئ چې د پالونکي مرستې په نورو مرستو څه اغېز لري، اړیکه ونیسئ.

**ما د ښېگڼو د گټو لپاره غوښتنلیک سپارلی مگر هیڅ پیسې نه لرم، څه کولای شم؟**

**د بحراني حالت پور (Crisis Loan)**

که چیرې تاسې هیڅ پیسې نه لرئ او د نورو مرستو د لاس ته راوړلو لپاره هم انتظار نه شئ کولای نو د بحراني حالت د پور غوښتنه وکړئ. دغه غوښتنه په دې شمېره 0800 032 8345 سرته رسولای شئ. د بحراني حالت پور هغه چاته ورکول کېږي چې هیڅ پس انداز ونه لري او همدا شان هیڅ خپلوان ونه لري چې مرسته ورسره وکړي، او د خوړو د اخیستلو لپاره پېسو ته ضرورت ولري. دغه ډول پور د بل هیڅ دلیل پربنسټ نه ورکول کېږي. د بحراني حالت پور د دوه اونیو لپاره دی، نو باید له ځان سره فکر وکړئ چې د دغه مودې لپاره څومره پېسو ته ضرورت لرئ اوبیا هماغه اندازه پیسې پور کړئ.

په یاد ولرئ چې دغه پور تاسې د کارموندنې له دفتر څخه ترلاسه کوئ، او باید بېرته یې همدغه دفتر ته تسلیم کړئ. تاسې کولای شئ دغه پور په کرار کرار په لږه اندازه بېرته ادا کړئ، یانې په اونۍ کې ۳ پونډه به ستاسې له هغه پېسو څخه چې دښیگڼې په ډول درکول کېږي وضع کېږي.

**لنډمهالې مرستې (Interim Payment)**

که چیرې تاسې د ښیگڼو د گټو لپاره غوښتنلیک سپارلی وي مگر لا مو د لومړي ځل لپاره مرسته نه وي اخیستلې، نو کولای شئ چې د کارموندنې له دفتر څخه دلنډمهالې مرستې غوښتنه وکړئ. که چیرې تاسې ته نږدې دفتر ونشي کړای تاسې سره مرسته وکړي نو پر هغه کاغذ چې تاسې د کارموندنې له دفتر څخه ترلاسه کړی یوه شمېره لیکل شوې، اړیکه ورسره ټینگه کړئ او د لنډمهالې مرستې غوښتنه ترې وکړئ.

### ماته د ضرورت مطابق پیسې نه راکول کېږي ایا زه اضافي مرسته هم ترلاسه کولای شم؟

که چیرې تاسې لږ ترلږه په اونۍ کې ۱٦ ساعته کارکوئ نو کولای شئ د خپل ځان یا کورنۍ لپاره د **کارکولو د مالیاتي اعتبار (Working Tax Credit)** غوښتنه وکړئ. 0845 300 3900 شمیرې ته زنګ ووهئ او د کارکولو د مالیاتي اعتبار د فورمې غوښتونکي شئ.

### په حالت کې بدلون

که چیرته ستاسې په ژوند کې کوم بدلون راشي نو باید د کارموندنې دفتر پرې ژر تر ژره خبر کړئ. په حالت کې د بدلون د راتګ مثالونه په لاندې ډول دي:

- واده کول
- د پتې یا ادرس بدلون
- په کومې دندې ګمارل کېدل
- رنځور یا ناروغه کېدل
- یا درنځ او ناروغۍ څخه ښه کېدل

ډېره مهمه ده چې د خپل حالت د بدلون څخه ژر تر ژره خبر ورکړئ. که چیرې خبر ورنکړئ نو تاسې د قانون څخه سرغړونه کوئ. د ښیګڼو د ګټو په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره کولای شئ دا ویبپاڼې وګورئ: www.direct.gov.uk یا www.citizensadvice.org.uk.

## ۳. هستوګنځی

### کله باید د UKBA هستوګنځی خوشې کړم؟

کله چې ستا د پناه غوښتنې په هکله پرېکړه وشي نو ستا د پناه غوښتنې ملاتړ به په **۲۸ ورځو** کې پای ته ورسېږي. که چیرې UKBA تا ته د اوسېدو لپاره کوم ځای درکړی وي نو ته باید ترېنه په ۲۸ ورځو کې ووځې. یو لیک به ترلاسه کړئ چې ستاسې د وتلو دقیقه نېټه پکې ذکر شوې وي.

### ټولنیز هستوګنځی څه شی دی؟

ټولنیز هستوګنځی هغه چاته ورکول کېږي چې هستوګنځي ته شدید ضرورت ولري، او یوه مناسبه کرایه ترې اخیستل کېږي. دغه هستوګنځي د کډوالو د سیمه ایزو مرکزونو (local councils)، (سیمه ایزو چارواکو) او یا هم د هستوګنځیو دټولنې (housing associations) (چې یوه غیر انتفاعي مستقله اداره ده او د حکومت څخه بودجه لاس ته راوړي او بیا بې کوره خلکو ته هستوګنځي برابروي) لخوا برابرېږي.

### دمرستې د لاس ته راوړلو لپاره باید چیرته مراجعه وکړم؟

که چیرې تاسې د اوسېدو لپاره ځای نه لرئ نو باید د خپل سیمه ایز دفتر ادارې ته مراجعه وکړئ .

### زه د اوسېدو لپاره ډېر ژر یو ځای ته ضرورت لرم؟

که چیرې تاسې د UKBA په هستوګنځي یا د کوم ملګري یا خپلوانو سره اوسېږئ او خبر درکړل شوی وي چې په ۲۸ ورځو کې ووځئ نو سیمه ایزمرکز ته د بې کورۍ عریضه وکړئ. دغه مرکز حقوقي مسوولیت لري چې تاسې ته مشوره او د اوسېدو لپاره د ځای په موندلو کې درسره مرسته وکړي.

د قانون له نظره د کډوالۍ مرکز باید هغو خلکو ته چې د بې کورۍ څخه رنځ وړي یا ډېر ژر بې کوره کېږي اویا هم د ځینو ځانګړو دلایلو پر بنسټ **د ضرر سره مخامخ** وي په بیړني ډول هستوګنځي برابر کړي. دا په دې مانا ده چې په سړک د ویده کیدلو په صورت کې تاسې دیو عادي سړي په نسبت ډېر د خطر سره مخامخ یاست. که شورا په دې باور شي چې تاسې د بیړني هستوګنځي مستحق یاست نو بیا ورته د لومړي ضرورت(priority need) هستوګنځی وایي.

خلک په مختلفو دلایلو د خطر سره مخامخ کېدای شي د مثال په ډول:

- هغه خلک چې په فزیکي او یا رواني روغتیایي ستونزو اخته وي اویا هم معیوبیت ولري
- امیندواره ښځې
- ماشومان لرونکې کورنۍ
- ۱۶-۱۷ کلن خلک
- هغه خلک چې د ټولنیزو خدمتونو له لارې يې پالنه کېږي
- د اور، سېلابونو او داسې نورو افتونو قربانیان
- بوډاګان او سپین ږیري
- د کورني تاوتریخوالي قربانیان
- هغه خلک چې تازه له زندان څخه راخوشې شوي وي
- په نشه يي توکیو او الکولي مشروباتو روږدي کسان

د کډوالۍ مرکز ستاسې حالات په دقیق ډول ارزوي او بیا تصمیم نیسي چې ایا تاسو د هستوګنځي مستحق یاست که نه. هغوی باید له تاسې سره مرکه اوکړي تر څو وګوري چې ستاسې سره مرسته کولای شي که نه.

## چیرې باید ولاړ شم چې د بې کورۍ په هکله غوښتنلیک وړاندې کړم؟

که ممکنه وي د کډوالۍ د هستوګنځیو اداري سره اړیکه ونیسئ ترڅو تاسې سره وخت تعین کړي. داسې هم کولای شئ چې پخپله ولاړ شئ او د هغه چا سره په مستقیم ډول وګورئ چې د بې کورۍ په موضوعاتوکې کار کوي. د کډوالۍ مراکز د بې کوره خلکو سره هر څومره ژر چې وشي مرکې کوي. تاسې سره په مستقیم ډول مرکه کوي او یا درته د مرکې لپاره بل وخت ټاکي. که چیرې تاسې سم دلاسه بې کوره یاست نو مرکز به تاسې سره فوراً په هماغه ورځ ووینې.

## کله چې د مرکې لپاره ځم باید د ځان سره څه ډول اسناد یوسم؟

هر څومره اسناد او لیکونه چې کولی شئ د ځان سره يې یوسئ، په خاص ډول:

- **هغه اسناد چې ستاسې د کډوالۍ حېثیت ثابت کړي-** د UKBA څخه د کډوالۍ د حېثیت او نورمکتوبونه چې ثابت کړي چې تاسې ته په بریتانیا کې د پاتې کېدلو اجازه درکړل شوې ده. تاسې باید هغه اسناد هم له ځان سره ولرئ چې د کورنۍ د غړو هویت او ستاسې سره د هغوی د خپلوۍ څرنګوالی تصدیق کړي. لکه د زیږیدو تصدیق یا زېږن پاڼه
- **هغه اسناد چې ستاسې بې کوري او د ژر بې کوره کېدو حالت ثابت کړي-** يو لیک د UKBA یا دهغه چا لخوا چې تاسې ورسره اوسېږئ. دغه لیک باید واضح کړي چې تاسې په کوم تاریخ باید دغه هستوګنځی پرېږدئ.
- **هغه اسناد چې ستاسې پته ثابته کړي-** که د کومې رسمي اداري لکه UKBA څخه وي نو بهتره به وي.
- **هغه اسناد چې ثابته کړي تاسې د خطر سره مخامخ یاست-**ستاسې د کورنۍ د کوم غړی مربوط مکتوبونه او داسې نور اسناد چې دغه پورته ذکر شویو موضوعاتو پورې اړه ولري.

## زه بې کوره یم خو د کډوالۍ مرکز ما سره مرسته نشي کولای

د هستوګنځیو ځینې خیریه ټولنې بې کوره خلکو ته بیړني هستوګنځي برابروي. دا د لیلیو او یا شپې پناه ځایونو په نامه یادېږياو عموماَ د نورو خلکو سره شریک او د لنډ مهال لپاره وي. د ډېرو لیلیو لپاره خلکو د پخوا نه خپل نومونه ثبت کړي وي او ورته منتظر وي، او ځینې خو يې لا د مستحق کېدو ځانګړي معیارات لري، د مثال په ډول کېدای شي د یو خاص عمر خلکو لپاره وي. تاسې کولای شئ د دغه پناه ځایونو لستونه او پتې له سیمه ایز مرکز څخه ترلاسه او یا يې په دې ویب پاڼو کې پیدا کړئ:

www.homelesslondon.org.uk
http://england.shelter.org.uk

همداشان کولای شئ لاندې مرستندویه شمېرو سره اړیکه ونیسئ:
**بحران (Crisis)** - 0844 251 0111

**پناه ځای (Shelter)** - 0808 800 4444
**د لندن د سړکونو څخه د ژغورنې اداره (London Street rescue)**- 0870 383 3333
www.stmungos.org/ ;www.pavement.org.uk; www.thamesreach.org.uk

همداراز تاسې کولای شئ چې زموږ د وګړو د مشورتي بیورو له تن سره هم وګورئ او د هغې څخه غوښتنه وکړئ چې تاسې ته د لیلیو او د هستوګنځیو د مشورتي مرکزونو په هکله معلومات درکړي.

## څنګه کولای شم سیمه ایزو هستوګنځیو ته عریضه وکړم؟

هر هغه څوک چې د کډوالی حېثیت، د بشري تحفظ د ژغورنې حالت او یا اختیاري اجازه ولري لکه د بریتانیا د نور وګړو په څېر کولای شي د هستوګنځیو دفتر ته عریضه وکړي. داسې ډېر خلک شته چې د هستوګنځیو اوکورونو لپاره دغه دفترونو ته غوښتنلیکونه سپاري خو هغه کسان چې ډېر حاجتمند وي کورونه او یا هستوګنځي ورته ورکول کېږي. کولای شئ چې اړونده فورمه د خپلو سیمه ایزو هستوګنځیو له ادارو څخه ترلاسه کړئ.

دهستوګنځیو دفتر ستاسې د شخصي احوالو پر بنسټ تصمیم نیسي چې تاسې هستوګنځیو ته ضرورت لرئ که نه. او ستاسې لپاره به یو څو لومړیتوبونه تعین کړي. د مثال په ډول، که چیرې تاسې په داسې ځای کې اوسېږئ چې ډېره ګڼه ګوڼه وي یا په داسې ځای کې اوسېږئ چې حفظ الصحه پکې نه وي مراعت شوي اوستاسې روغتیا ته ضرر ولري.

## باید کوم دفتر ته مراجعه وکړم؟

تاسې کولای شئ په هیواد کې هر دفتر ته مراجعه وکړئ خو که د هماغه دفتر سره سیمه ایزې اړیکې ونه لرئ نو هغه به مو بل دفتر ته وروپېژني. تاسې به د هغه دفتر سره سیمه ایزې اړیکي لرئ چې تاسي په هغه سیمه کې:

- کار کوئ
- په تېرو دولسو میاشتو کې د شپږو میاشتو لپاره هلته اوسېدلي یاست او یا په تېرو پنځه کلونو کې د درې کلو لپاره هلته اوسېدلي یئ.
- ستاسې د کورنۍ یو نږدې غړی په هغه سیمه کې د ٥ کلونو لپاره اوسېدلی وي.
- کله چې تاسې مثبته پریکړه اخیستلی و او د UKBA لخوا درته هستوګنځی درکړل شوی و.

## څنګه کولای شم د کرایې هستوګنځي پیدا کړم؟

هر هغه څوک چې په لومړیتوبونو کې نه راځي لکه مجرد یا متاهل خو چې ماشومان ونه لري نو د هغوی لپاره به دا ډېره ښه وي چې د شخصي ملکیت لرونکو څخه هستوګنځي په کرایه ونیسي. په شخصي ډول د کورونو په کرایه نیول ډېرې ګټې لري، لکه دغه ډول ملکیتونه په اسانۍ او په بیړه پیدا کېږي. او تاسې کولای شي چې په هر موقعیت کې کور وغواړئ نو پیدا کولای یې شئ. همداشان تاسې کولای شئ هغه ډول کور چې ستاسې لپاره مناسب وي پیدا کړئ. کولای شئ چې خالي یا د اسبابو اولوازمو سره کور پېدا کړئ. او د کرایي کور نیول به ثابته کړي چې تاسې کولای شئ هغه کور چې غواړئ او وس مو پرې رسېږي لاس ته راوړئ.

د کرایې کور د انټرنیت له لارې، د ورځپاڼو د اعلاناتو له لارې، د اعلاناتو د لوحو د دوکانونو په کړکیو کې نصب شویو یادداشتونو او یا د رهنماګانو له لارې موندلی شي.

## څنګه کولای شم دکرایې کور کرایه ورکړن؟

که چیرې تاسې لږ عاید ولرئ اویا د ښېګڼو ګټې مو کافي نه وي نو کولای شئ چې د هستوګنې مرستې (Housing Benefit)، د کډوالی د مرکز مالیاتي مرستې (Council Tax Benefit) ترلاسه کړئ. دا پیسې تاسې د کډوالۍ له دفتر څخه ترلاسه کوئ څو د کور کرایه او یا مالیه ورکړئ. تاسې د دغه پیسو د لاس ته راوړلو غوښتنه هغه وخت کولای شئ چې د کرایې قرارداد مو د هستوګنځي د خاوندسره لاسلیک کړی وي. د هستوګنځي خاوند کېدای شي همدغه دفتر، د هستوګنځیو ټولنه، او یا شخصي څمکه لرونکی وي. د کرایي په قرارداد کې د کرایې اندازه، د اوسېدو موده، او نور شرایط ذکر شوي وي. تاسې د مالیاتي مرستو او هستوګنې مرستې د غوښتنلیک فورمې د سیمه ایز دفتر د ویب پاڼې څخه ترلاسه کولای شئ. همداراز تاسې په مستقیم ډول دفتر ته ورشئ او فورمه ترېنه راواخلئ. دغه فورمه بیا د هستوګنې د مرستو اویا مالیاتي مرستو دفتر ته هر څومره چې ژر کېږي وسپارئ.

**خومره د هستوګنې مرستې ترلاسه کولای شم؟**

که چیرې تاسې هیڅ عاید ونه لرئ اویا د ښیګڼو ګټې اخلئ، نو حکومت به ستاسې له سیمې سره برابر د هستوګنځي اوسط اندازه کرایه درکوي. دغه مرسته د سیمه ایز هستوګنځي د مرستې ( Local Housing Allowance) په نامه یادېږي. که چیرې کرایه د سیمه ایز هستوګنځي د مرستې څخه زیاته وي نو تاسې باید اضافي کرایه پخپله ورکړئ. که ستاسې عمر د ۲۵ کلونو څخه کم وي نو تاسې ته به دیو ه اطاق د کرایې په اندازه چې په شریک کور کې وي مرسته درکول کېږي. له دې نه مخکې چې د چا سره د کرایي کور لپاره قرارداد لاسلیک کړئ وګورئ چې تاسې د هستوګنځي لپاره د خومره مرستې مستحق ګڼل کېږئ.

د سیمه ایز هستوګنځي د مرستو په اړوند معلومات د لاندې ویب پاڼې په کېکاږلو سره موندلی شئ https://lha-direct.voa.gov.uk/Secure/Default.aspx.
که چیرې تاسې کار کوئ خو د عاید اندازه مو کمه وي بیا هم د هستوګنځي د مرستې او د مالیاتي ګټو مستحق پېژندل کېږئ. خو ستاسې عاید به هم ورسره حسابېږي.

**د کور خاوندان پیشکي پیسې غواړي - زه یې د ورکولو توان نه لرم.**

اکثراً د کورونو خاوندان د دې لپاره د پیشکي پیسو غوښتنه کوي چې که په راتلونکي کې کور یا هستوګنځي ته زیان رسېدلی وي نو چې وکړای شي له هغه پیسو څخه یې د ترمیم لپاره یو اندازه پیسې ستنې کړي. دوی دغه پیسې د یوحکومتي پلان له لارې له ځان سره ساتي او چې کله د قرارداد موده پای ته رسېږي بېرته ستاسې پیسې درکول کېږي. د قانون له نظره دغه ساتل شوې پیسې ستاسې خپلې دي. که چیرې دکورخاوند د دغه پیشکي پېسو په هکله تاسې ته د دوه اونیو په ترڅ کې معلومات درنکړي نو تاسې د مشورې غوښتونکي شئ. دا هم معموله ده چې د قرارداد د پیل په وخت کې کرایه مخکې د مخکې ورکړئ (اکثراً یوه میاشت مخکې). که چیرې تاسې دومره پیسې ونه لرئ چې پیشکي پیسې او یا پیشکي کرایه ورکړئ نو کېدای شي چې په خپله سیمه کې د پیشکي یا د کرایې د تضمین لپاره دفتر ته مراجعه وکړئ. ستاسې د کډوالی سیمه ایز دفتر او یا هم د هستوګنځیو د مشورې اداره تاسې ته په دې اړوند معلومات درکولای شي.

دا هم ممکنه ده چې د کارموندنې له دفتر څخه بودجوي پور (Budgeting Loan) یا د بحراني حالت پور لاس ته راوړئ څو پرې خپله پیشکي کرایه تحویل کړئ. مګر په یاد ولرئ چې ځانګړې ډله خلک د دغه پور مستحق ګڼل کېږي. نو لومړی د خپلې سیمې د کارموندنې دفتر ته مراجعه وکړئ.

که چیرته تاسې ته ۲۰۰۷ کال د جون د یوولسمې څخه د مهاجرت حېثیت، او یا د بشري تحفظ پر بنسټ مثبته پریکړه درکړل شوې وي نو د یوځای کېدلو پور (Integration Loan) لپاره هم غوښتنلیک سپارلی شئ څو خپله پیشکي، یا پیشکي کرایه تحویل کړئ. په دغه ډول پور باندې سود نه راځي. د غوښتنلیک فورمه او د لارښوونې پاڼې د UKBA ویب پاڼې څخه ترلاسه کړئ.

**د خصوصي کرایه دار په توګه ستاسې حقوق**

د کرایې کورونو د قراردادونو د ډولونو ، دکرایې دتحویلی، د هستوګنځي د ترمیم، په کورونو کې د هستوګنو د مصؤونیت او د کور څخه د مخکیني خبر ورکولو پرته د کرایه دار د ایستلو په هکله مختلف قوانین موجود دي .

د کرایي هستوګنځي په قرار داد کې هغه شرایط چې ستا او د کور د خاوند ترمینځ هوکړه پرې راغلې وي ذکر کېږي. ډول ډول قرا ردادونه شته چې تاسې د هر قرارداد پر بنسټ د مختلفو حقونو څخه برخمن کېږئ. تاسې باید د تړون لیک یو نقل له ځان سره ولرئ ترڅو تاسې سره د کرایي کور یو سند موجود وي. په اکثریت قراردادونو کې ذکر شوي وي چې کله تاسې د کور څخه ایستل کېږئ باید یوه میاشت مخکې خبر درکړل شي څو تاسې کافي وخت ولرئ چې بل کرایي کور پیدا کړئ. که چیرې تاسې ته وویل شي چې د یوې میاشتې څخه په کمه موده کې له کور څخه ووځئ نو خپل سیمه ایزمرکز او یا کوم حقوقي دفتر ته د مشورې لپاره مراجعه وکړئ.

**ایا د بل کوم ځای څخه هم مرسته ترلاسه کولای شم؟**

د وګړو سیمه ایزه بیورو (Citizens Advice Bureau) یا CAB کولای شي تاسې ته اضافي مشورې درکړي.
داسې نورې ادارې هم شته چې تاسې ته د هستوګنځیو په هکله وړیا مشورې درکولای شي. او په دې هکله د وګړو د سیمه ایزې ادارې CAB څخه معلومات اخیستلای شئ.

# ٤. روغتیايي پاملرنه

په بریتانیا کې د ملي روغتیايي خدمتونو اداره (National Health Service) یا NHS د هغو خلکو لپاره چې علاج ته ضرورت لري یو لړ وړیا روغتیايي خدمتونه وړاندې کوي. دغه خدمتونه د کورني ډاکټرانو (چې د GPs په نامه یادېږي)، کلینیکونو، روغتونونو، د غاښونو د ډاکټرانو، نسائي ولادي روغتونونو، د سترګو ډاکټرانو او د دواسازانو لخوا وړاندې کېږي. همدارنګه NHS د اولادونو ترمینځ د فاصلې د رامینځ ته کولو او د کورني پلانینګ اړوند خدمتونه هم وړاندې کوي. ځینې ځانګړي تداوياني شته چې ناروغان یې په مقابل کې باید پیسې ورکړي خو اکثریت تداویانې د ټولو لپاره وړیا دي.

## څنګه کولای شم د یو معالج ډاکټر GP څخه روغتیايي مرسته ترلاسه کړم؟

که چیرې څوک ناروغ وي خو عاجلې تداوۍ ته ضرورت ونه لري نو کولای شي په خپله سیمه کې عمومي معالج GP (د کورنی ډاکټر)معاینه خانې ته مراجعه وکړي. معالج ډاکټران کولای شي ستا ناروغي تشخیص کړي او دوا درکړي خو تاسې به کوم بل متخصص ډاکټر ته چې ستاسې ناروغي ورپورې اړوند وي معرفي کړي. ډېر ځله دا په دې مانا وي چې تاسې روغتون ته لېږل کېږئ خو ښه تداوي مو وشي. له دې نه مخکې چې تاسې ناروغ شئ باید د یو معالج ډاکټرGP سره ځان ثبت کړئ، ځکه که بیا ستاسې ناروغي شدیده وي نو د همدې ډاکټر لخوا نورو صحي ځانګو او روغتونونو ته استول کېږئ.

د روغتیايي معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره کولای شئ د روغتیايي خدمتونو ملي ادارې مستقیمې شمېرې (NHS Direct) سره 0845 4647 اړیکه ونیسئ. دغه مرستندویه شمېره په ٢٤ ساعته ډول فعاله وي. خو ددوی ویب سایټ www.nhsdirect.nhs.uk د عامو روغتیايي ستونزو په هکله ډېر معلومات لري.

## څنګه کولای شم یو معالج ډاکټر GP پیدا او ځان ورسره ثبت کړم؟

په خپل نږدې کتابتون کې، د ملي روغتیايي خدمتونو د ادارې په ویب پاڼه کې، د ګاونډیانو او د خپل کور د خاوند څخه که چیرې په هغه کور کې اوسېږئ چې د UKBA لخوا درکړل شوی وي په خپله سیمه کې د ډاکترانو لیست او د هغوی په هکله معلومات ترلاسه کولی شئ. فکر مو وي چې هغه ډاکټر انتخاب کړئ چې په اسانی سره ورتللای شئ. ښځه معالجه ډاکټره هم انتخابولی شئ. سیمه ایز ې معاینه خانې یوازې د هغه خلکو علاج کوي چې په هغه سیمه کې اوسېږي، که تاسې غواړئ د ډاکټر څخه وخت واخلئ او په انګریزي ژبه خبرې نشئ کولای نو د استقبالیې د ځانګې څخه وغواړئ چې ستاسې لپاره ژباړن پیدا کړي.

د ډاکټر سره ځان ثبتول په دې مانا دي چې تاسې هغې ته هغه مکتوب چې د UKBA لخوا درکړل شوی وښایئ. همدا شان که امکان ولري د اوسېدو د ځای یو سند هم ورښکاره کړئ. سیمه ایز ې معاینه خانې یوازې د هغه خلکو علاج کوي چې په هغه سیمه کې اوسېږي.

که چیرته معالج ډاکټران ډېر ناروغان ولري نو ستاسې نوم نه ثبتوي. که چیرته تاسې د نوم په ثبتولو کې ستونزې لرئ نو د سیمه ایزې روغتیايي اتحادیې سره اړیکه ونیسئ، دغه اتحادیه داسې یوه اداره ده چې په سیمه ایزه کچه د روغتیايي پاملرنې له قوانینو څخه څارنه کوي. کله چې تاسې خپل نوم ثبت کړ نو تاسې به د نرس په واسطه په عمومي ډول معاینه کړای شئ. یوځل چې د معالج ډاکټرGP سره ثبت شوئ نو بیا کولای شئ د هغې څخه وخت واخلئ ترڅو مو معاینه کړي.

## د اضطراري حالت په وخت کې باید څه وکړم؟

که چیرې تاسې د عاجلې پېښې او یا هم د یو ناڅاپي شدیدې ناروغۍ سره مخامخ شئ نو بیا د نږدې روغتون د پېښو او عاجلو واقعاتو دڅانګې (Accident and Emergency) سره تماس ونیسئ. تاسې خپله هم هلته مراجعه کولای شئ خو ډېر خلک 999 ته زنګ وهي ترڅو امبولانس راوغواړي. عاجلې تداویانې ټل وړیا وي.

## دوایانې

کله چې تاسې دوا ته ضرورت ولرئ نو معالج ډاکټر به مو درته نسخه ولیکي چې بیا به یې دوا له دواخانې څخه ترلاسه کړئ. اکثریت لویان باید دوا په پیسو واخلي خو د ځینو خلکو لپاره دوا هم وړیا ده، د مثال په ډول هغه خلکو ته چې د ښیګڼو ګټې ترلاسه کوي.

# ۵. د لویانو لپاره زده کړې

### انګلیسي د نورو ژبو د خبروکوونکو لپاره (English for Speakers of Other Languages - ESOL) څه شی دی؟

ESOL اکثراً په پوهنځیو او ټولنیزو مرکزونو کې تدریس کېږي. د دې زده کړو هدف دا دی چې هغه څوک چې بریتانیا ته مهاجر کېږي باید د کارموندنې، زده کړې او ژوند لپاره انګلیسي زده کړي. ESOL د هغه خلکو لپاره هم ډېر اهمیت لري کوم چې د بریتانیا تابعیت ترلاسه کول غواړي.

### څنګه پوهیدلی شم چې دESOL په کوم سمستر کې شامل شم؟

ESOL شپږ سمستره دی. کله چې تاسې کوم کورس، یا کالج یا کوم بل تعلیمي مرکز ته غوښتنلیک سپارئ نو هغوی ستاسې څخه یوه ازموینه اخلي او د ازموینې وروسته به ستاسې دسویې مطابق سمستر کې شامل کړای شئ.

### د ESOL د کورس لپاره څه ډول عریضه وکړم؟

ددې لپاره چې د ESOL کورس لپاره غوښتنلیک ترتیب کړئ د خپل سیمه ایز تعلیمي پوهنځي سره اړیکه ونیسئ. عموماً کورسونه د سپتمبر په میاشت کې پیل کېږي. که چیرې تاسې د خپلې سویې سره سم اومناسب کورس نه شئ پیداکولای نو د خپلې سیمې د کارموندنې ادارې سره په تماس کې شئ او د مرستې غوښتنه وکړئ. د ESOL زیاتره کورسونه د هغه چا لپاره چې د ښیګڼو ګټې ترلاسه کوي وړیا دي.

### د انګلیسي ژبې د ازموینې نړیوال سیستم (International English Language Testing System - IELTS) څه شی دی؟

IELTS د انګلیسي ژبې د ازموینې یو نړیوال معیاري سیستم دی. د دې لپاره چې په بریتانیا کې په کوم پوهنتون کې داخله واخلئ نو تاسې باید د IELTS امتحان ورکړئ.
ډېرخلک د دې لپاره چې په دغه ازموینه کې بریالي شي پرمختللي کورسونه هم لولي. د ازموینې د اخیستلو د محل لپاره دغه ویبپاڼه وګورئ http://www.ielts.org/test_takers_information.aspx

## اضافي زده کړې

### اضافي زده کړې کومې زده کړې دي؟

اضافي زده کړې هغه زده کړې دي چې د جبري زده کړو څخه وروسته ادامه مومي، خو د عالي تحصیلاتو د درجې څخه ښکته وي. په ځانګړي ډول په دې کې د A سمسترونه A Levels او د AS سمسترونه، AS Levels، BTEC او مسلکي زده کړې شامل دي. که چیرې غواړئ چې لوړې زده کړې وکړئ نو باید د هماغه مسلک نیمه عالي کورسونه تکمیل کړئ او د دغه کورسونو د بشپړېدو وروسته به بیا د عالي درجې په کورسونو کې قبول شئ.

### ایا زه مجبور یم چې د اضافي زده کړو کورسونو لپاره پېسې ورکړم؟

ډېری اضافي زده کړې د کډوالو لپاره وړیا وي.

### د اضافي زده کړې په کورسونو کې د شاملېدو لپاره څنګه غوښتنلیک وسپارم؟

که غواړئ چې د اضافي زده کړې په کورسونو کې شامل شئ باید په مستقیم ډول د هماغه اړوند کالج سره په تماس کې شئ.

## لوړې زده کړې

### لوړې زده کړې څه دي؟

لوړې زده کړې هغه زده کړې دي چې د هغې په پایله کې ډیپلوم لاس ته راوړئ، او دغه زده کړې په پوهنتونونو کې ترسره کېږي.

### د لوړو زده کړو لپاره څنګه غوښتنلیک سپارلی شم؟

تاسې کولای شئ چې هغه رشته چې غواړئ تحصیل پکې وکړئ د یوې ادارې له لارې چې UCAS نومېږي وپلټئ. د لازیاتو معلوماتو لپاره دغه ویبپاڼه www.ucas.com وګورئ اویا دغه شمېرې ته 468 0 468 0871 زنګ ووهئ.

### زه باید د کومې کچې د زده کړو فیس ورکړم؟

که چیرته تاسې ته په بریتانیا کې د اوسېدلو اجازه درکړل شي، نو تاسې به د کورني فیس (home fees) د ورکولو مستحق واوسئ. دا په دې مانا ده چې تاسې به په هغه انداز فیس ورکوئ لکه څومره چې یې یو بریتانیایي وګړی ورکوي. د بهرني فیس د زده کړو اندازه د کورني فیس په پرتله ډېره لوړه ده.

که چیرې تاسې خپلې زده کړې د بهرني فیس (overseas fees) ورکوونکي په حېث پیل کړی وي او بیا درته په بریتانیا کې د پاتې کېدو اجازه درکړل شي، نو باید خپل پوهنځي او یا پوهنتون ته ووایئ او همدا شان سند هم ورته ورښکاره کړئ چې ستاسې حالت بدلون موندلی دی. نو بیا به د راتلونکي کال لپاره تاسې نه د کورني فیس په اندازه پیسې واخیستل شي.

که تاسې د هغه چا ماشوم، مېرمن یا مېړه، یا ملکي شریک یاست چې په بریتانیا کې د اوسېدلو اجازه ورکړل شوې ده تاسې به هم د کورني فیس د ورکولو مستحق یاست. ستاسې پوهنتون او یا پوهنځی به ستاسې د کورنیو د غړو په اړوند شواهد، او د پناه غوښتنې حالت او ستاسې خپلولي د هغوی سره وګوري.

## د زده کوونکی مرسته

### د زده کوونکی مرستهڅه ته وایي؟

د زده کوونکو سره مرستې هغه مختلفو مرستو او پورونو ته ویل کېږي چې زده کوونکي د هغې لپاره غوښتنلیکونه سپاري څو د هغوی د فیسونو په تحویلولو او د ژوند په لګښتونو کې ورسره مرسته وکړي. له دغه مرستو څخه تاسې هغه وخت ګټه اخیستلای شئ چې د لاندې کورسونو څخه په یو کې زده کړې کوئ:

- د فراغت څخه د مخه زده کړې (لیسانس)
- لوړ ملي ډیپلوم (Higher National Diploma - HND)
- لوړه ملي شهادتنامه (Higher National Certificate – HNC)
- د لوړو زده کړو ډیپلوم (Diploma of Higher Education)
- د ښوونکو د روزنې کورس

د زده کوونکی مرسته عبارت ده له:

- د زده کړو د فیس لپاره پور
- د ژوند د لګښت لپاره پور
- ځانګړې بشپړونکې مرستې د ځانګړو زده کوونکو ډلو لپاره
- بیرته نه مستردیدونکې مرسته تر ۲۸۳۵ پونډه پورې د هغه زده کوونکولپاره چې کم عاید لرونکو کورنیو پورې اړوند دي.

### ایا زه مستحق یم چې د زده کوونکو د مرستو لپاره غوښتنلیک وسپارم؟

که چیرته تاسې ته د مهاجرت یا کډوالۍ حیثیت درکړل شوی وي نو تاسې مستحق یاست چې د زده کوونکو د مرستو لپاره غوښتنلیک وسپارئ. که تاسې ته د انساني ژغورنې پر بنسټ، اختیاري اجازه، یا د پاتې کېدلو له پاره ناټاکلې اجازه درکړل شوې وي او تاسې د دریو کلونو راهیسې په بریتانیا کې اوسېږئ نو بیا هغه وخت د زده کوونکو د مرستو غوښتنه کولای شئ.

### د زده کوونکو د مرستې لاس ته راوړنې لپاره باید څنګه عریضه وکړم؟

که چیرې تاسې د زده کوونکو د مرستو لپاره عریضه کوئ نو په مستقیم ډول د **زده کړو سیمه ایزو چارواکو** (**Local Education Authority**) ته عریضه وکړئ دا د کډوالۍ په مرکز کې د زده کړو څانګه ده.

د زده کوونکو د مرستو د لاس ته راوړنې په هکله لا زیات معلومات په دې ویبپاڼې کلیک وکړئ
http://www.direct.gov.uk/en/EducationAndLearning/UniversityAndHigherEducation/StudentFinance/index.htm

د فراغت څخه وروسته کورسونو لپاره د مرستو غوښتنې په خاطر لاندې لینک کېکاږئ
http://www.direct.gov.uk/en/EducationAndLearning/UniversityAndHigherEducation/ChoicesAfterYouGraduate/DG_10012463

### څنګه کولای شم چې خپلو موجوده زده کړو ته بدلون ورکړم ترڅو په بریتانیا کې د قبول وړ وګرځي؟

که چیرې تاسې بهر زده کړې کړې وي او غواړئ چې دغه زده کړې په بریتانیا کې په رسمیت وپېژندل شي او د بریتانیا د زده کړو سره انډول شي نوباید د **اکاډمیکو معلوماتو د تشخیص ملي مرکز ( National Academic Recognition Information Centre)** یا **NARIC** سره تماس ونیسئ. د معلوماتو حاصلولو په خاطر ضرورت نشته چې پیسې تحویلې کړئ خو که چیرته د خپلو تحصیلي اسنادو د ارزونې لپاره کوم لیکل شوی تصدیق غواړئ نو باید ٤٧ پونډه مصرف کړئ. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د NARIC دغه شمېرې سره 0871 330 7033 اړیکه ونیسئ.

همدا شان په بریتانیا کې داسې اداري هم شته چې د کډوالو سره مرسته کوي تر څو خپلو څانګړو مهارتونو او تعلیماتو ته په بریتانیا کې ادامه ورکړي.

کډوال ښوونکي - www.refugeesintoteaching.org.uk
کډوال انجینران - www.olmec-ec.org.uk/main.cfm?Type=SF&MenuId=344
کډوال روغتیایي مسلکي کارکوونکي - www.rose.nhs.uk

### ایا داسې نور کورسونه شته چې زه پکې خپلو مهارتونو ته وده ورکړم ترڅو ما سره د کارموندنې لپاره مرسته وکړي؟

داسې ډېر کورسونه شته چې ستاسې د علاقې وړ به وي. که غواړئ د خپلې خوښې کورس پیدا کړئ نو دغه لینک کلېک کړئ
http://careersadvice-findacourse1.direct.gov.uk/pls/hot_ca/ld_all_home.page_pls_all_home_adv

د لویانو د زده کړو په هکله د معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره د مستقیمې زده کړې **Learn Direct** سره په 0800 1011901 اړیکه ونیسئ اویا دغه سایټ وګورئ www.learndirect.co.uk

### زه د داوطلبانه کار کولو سره علاقه لرم

داوطلبانه کار ستاسې سره مرسته کوي چې خپلو نظریاتو او معلوماتو ته وده ورکړئ او د داوطلبانه کار په سرته رسولو تاسې کولای شئ دیوې پراخه ټولنې سره مرسته وکړئ، خپل مهارتونه د هغوی په اختیار کې ورکړئ او هیڅ پیسې لاس ته نه راوړئ.

دغه کار تاسې سره مرسته کوي چې د بریتانیا د کاري کولتور سره بلد شئ، نوي مهارتونه او تجربې زده کړئ، انګلیسي زده کړئ او د ډېرو خلکو سره وپېژنئ تر څو بیا د کومې دندې لپاره عریضه وکړئ.

که غواړئ چې د داوطلبانه کار لپاره معلومات ترلاسه کړئ نو دغه لینکونه کېکاږئ www.volunteering.org.uk
یا http://jobseekers.direct.gov.uk

## ٦. د سفر اسناد

که چیرې تاسې د کډوالۍ حېثیت، په بشري بنسټ د تحفظ، اختیاري اجازه، او د پاتې کېدلو لپاره ناټاکلې اجازه ولرئ نو سفر لپاره د اسنادو د ترلاسه کولو غوښتنلیک سپارلی شئ څو د خپلو مهاجرت د اسنادو په ځای یې وکاروئ. د سفر اسناد د رسمي تذکرې، او د بریتانیې څخه بهر ته د سفر کولو د اسنادو په حېث کارولی شئ. خو په دغه اسنادو تاسې نه شئ کولای چې خپل اصلي هیواد ته ولاړ شئ، او د دې نه مخکې چې سفر وکړئ باید د ویزې د اخیستلو لپاره عریضه وکړئ.

درې ډوله د سفر اسناد موجود دي، د اسنادو ډول ستاسې د اخیستل شوې پریکړې پورې اړه لري یانې ستاسې د پاتې کېدو د ډول پورې اړه لري.

**د سفر قراردادي اسناد (Convention Travel Document): د هغه چا لپاره چې د کډوالۍ حېثیت ولري**

**دسفر تصدیق لیک (Certificate of Travel): په بشري بنسټ د تحفظ، اختیاري اجازه، او د پاتې کېدلو لپاره ناټاکلې اجازه لرونکو لپاره**

کوم ډول اسناد چې ستاسې د حالت سره سمون خوري او تاسې غواړئ چې ترلاسه یې کړئ نو تاسې باید UKBA ته دا موضوع ښکاره ثابته کړئ چې ستاسې ملي چارواکو په رسمي او ناحقه ډول تاسې ته د پاسپورټ د درکولو څخه ډډه کړې ده. که چیرې تاسې د خپلو ملي چارواکو څخه په وېره کې یاست او دغه مسئله ستاسې د پناه غوښتلو د قضیې یوه مهمه برخه جوړوي، نو تاسې باید بیا دغه موضوع ښکاره نکړئ. که ستاسې دغسې حالت وي نو د تصدیق لیک لپاره د عریضې څخه د مخه د حقوقي استازو او یا د کډوالۍ د ټولنیزې ادارې څخه د مشورې غوښته وکړئ.

**د تابعیت نه لرونکی شخص د سفر سند (Stateless Person's Travel Document) : د تابعیت نه لرونکی شخص**

**د سفر د اسنادو لپاره د غوښتنلیک سپارل**

د دغه درې ډوله اسنادو قیمت د یو بل څخه توپیر لري، او د ماشومانو د اسنادو قیمت لږ وي. تاسې باید د کورنیو چارو وزارت د سفر فورمه چې TD112 نومېږي ترلاسه کړئ او دغه فورمه د UKBA د ویب پاڼې څخه هم پرینټ (چاپ) کولی شئ. www.ukba.homeoffice.org.uk

د فورمې وروستۍ پاڼه باید د یو مسلکي سړي په واسطه ډکه کړای شي. همدا شان د دوه پاسپورت اندازه‌عکسونو په شا باید ولیکل شي چې دا یو صحیح او حقیقي عکس یا انځور دی (This is a true and correct likeness of) چې باید خپل نوم، د کورنیو چارو د وزارت د مراجعینو شمېره او خپل لاسلیک هم پکې د عکس په شا ولرئ. مسلکي شخص باید د لاندې ذکر شویو خلکو څخه وي خو په یاد ولرئ چې باید ستاسې د کورنۍ غړی نه وي:

- ډاکټر
- د دینې چارو مسول
- ټولنیز کارکوونکی
- د پولیسو مامور
- ښوونکی
- د محکمې رییس
- د محبس مسوول
- د بانک مدیر
- حقوقي مشاور
- د مهاجرینو د چارو مشاور (لومړی درجه ASS یا OISC Level One لومړی درجه /AAS Level One)

تاسې باید هیڅا ته پیسې ورنه کړئ چې د سفر د اسنادو لپاره ستاسې غوښتنلیک بشپړ کړي. یواځې باید UKBA ته پیسې ورکړئ. د خپل مهاجرت یا کډوالۍ اصلي اسناد هیڅ ځای ته مه استوئ بلکې د هغوی کاپي د سفر د اسنادو سره ولېږئ.

تاسې کولای شئ UKBA ته (چې دکورنیو چارو دوزارت Home Office څخه بهر جوړ شوی) د چک،کرېډت کارت، او د پوستې حواله (Postal Order) په ذریعه پیسې ورکړئ.

په یاد ولرئ چې کومې پیسې چې تاسې UKBA ته تحویلوئ که چیرې ستاسې عریضه و نه منل شي نو هم بېرته نه درکول کېږي، نو له دې نه مخکې چې عریضه کوئ ځان مطمین کړئ چې اسناد او شواهد مو ټول بشپړ دي او هرهغه څه ته چې ضرورت لرئ د اسنادو سره مو ضمیمه کړي دي. د سفر د اسنادو په هکله نور معلومات په دې لینک ترلاسه کړئ. www.ukba.homeoffice.gov.uk

## ۷. د کورنۍ بیا یو ځای کېدنه

### ایا زما کورنۍ ما سره د یو ځای اوسېدلو لپاره بریتانیا ته راتلای شي؟

که چیرې تاسې د کډوالۍ حېثیت لرئ او ستاسې کورنۍ د بریتانیا څخه بهر وي، ستاسې د کورنۍ ځینې غړي کولای شي تاسې سره واوسېږي. که چیرې تاسې مېړه یا مېرمن ولرئ چې بریتانیا ته د راتګ څخه د مخه مو سره واده کړی وي، یا د ۱۸ کلن څخه ټیټ ماشومان ولرئ، نو دوی هم درخواست ورکولای شي چې کوم د کډوالۍ حېثیت چې تاسې لرئ هغوی یې هم لاس ته راوړي. په ځینې نورو حالاتو کې د کورنۍ نور غړي هم کولای شي چې بریتانیا ته د راتللو لپاره غوښتنلیک وسپاري.

دغه حالت ته د کورنۍ بیا یو ځای کېدنه وایي، او غوښتنلیک باید د یو قانوني استازي له خوا ترتیب شي. هغه قانوني استازی چې تاسې سره یې د پناه غوښتنې د غوښتنلیک په ترتیبولو کې مرسته کړې وه کولای شي تاسې سره بیا مرسته وکړي. که چیرې تاسې دنده نه لرئ نو وکیل ستاسې څخه هیڅ ډول فیس نه اخلي. په تاسې باندې لازمه نه ده چې د کورنۍ د راغوښتلو دمخه UKBA ته دا ثابته کړئ چې تاسې خپله کورنۍ ساتلی شئ. کله چې تاسې د کډوالۍ د حېثیت مثبته پریکړه ترلاسه کړه نو سمدلاسه کولای شئ چې د کورنۍ د بیا یوځای کېدلو غوښتنلیک وسپارئ.

که چیرې تاسې ته په بشري بنسټ د تحفظ، د اختیاري اجازې او د پاتې کېدو ناټاکلې اجازې پریکړې درکړل شوې وي او غواړئ چې د کورنۍ د بیا یوځای کېدنې لپاره غوښتنلیک وسپارئ نو د خپل وکیل څخه د مشورې غوښتونکي شئ. د کورنۍ د بیا یوځای کېدلو په هکله لازیات معلومات په دغه ویبپاڼه www.ukba.homeoffice.gov.uk کې موندلی شئ.

## ۸. د بانکي حساب پرانیستل

### ایا زه کولای شم بانکي حساب پرانیزم؟

که چیرې تاسې د کډوالۍ حېثیت، د بشردوستۍ پربنسټ د تحفظ حېثیت، اختیاري اجازه او یا دپاتې کېدلو ناټاکلې اجازه ولرئ، نو کولای شئ چې یو بانکي حساب پرانیزئ. خو دا کار ځینې وخت ډېر ستونزمن وي ځکه بانکونه ستاسې څخه د ډېرو اسنادو غوښتنه کوي.

د دې لپاره چې بانکي حساب پرانیزئ باید بانک ته خپلې پېژندپاڼې، د کډوالۍ حېثیت او ادرس ورښکاره کړئ. ځینې بانکونه د نورو بانکونو په نسبت د ډېرو اسنادو غوښتنه کوي. **لږ تر لږه** باید تاسې لاندې اسناد له ځانه سره ولرئ :

- **یو انځور یا عکس لرونکې پېژندپاڼه:** د مهاجرت یا کډوالۍ د حېثیت اسناد، د موټر چلونې اجازه نامه یا لېسنس، یو د اعتبار وړ پاسپورټ (د ARC کارتونه د اعتبار وړ نه دي).
- **یو سند چې ستاسې پته او ادرس ثابت کړي:** د UKBA مکتوبونه، هغه بلونه چې ستاسې نوم پرې لیکل شوی وي، او د کارموندنې د دفتر څخه مکتوبونه. کېدای شي ځینې بانکونه له دغه پاس یادو شویو اسنادو څخه نور اسنادو ته لکه ستاسې د عایداتو سند هم وګوري.

### د پوسټ خونې د کارت حساب (Post Office Card Account)

که چیرې تاسې  نشئ کولای چې بانکي حساب پرانیزئ نو ممکنه ده چې د پوسټ خونې حساب  پرانیزئ. د پوسټ خونې د کارت حسابونه کټ مټ د بانکې حسابونو په څېر دي. خو د بانکي حساب د پرانیستلو څخه د پوسټ خونې د کارت حساب پرانیستل اسان دي.

کله چې تاسې غواړئ د پوسټ خونې د کارت حساب پرانیزئ نو د خپلې سیمه ایزې کارموندنې ادارې څخه غوښتنه وکړئ چې تاسې ته یو بلنلیک (Invitation Letter) درکړي. دغه لیک پوسټ خونې ته د حساب د پرانیستلو لپاره له ځان سره یوسئ.

## ۹. قانوني مشوره

که چیرې تاسې بې روزګاره یاست او عاید مو کم وي نو کولای شئ وړیا حقوقي مشوره ترلاسه کړئ. د بریتانیا حکومت به ستاسې د حقوقي مشورې فیس  ورکړي؛ دا د قانوني مرستې (Legal Aid) په نامه یادېږي. قانوني استازي خان ته مشوره ورکوونکي، وکیلان، حقوق پوهان یا قانوني مشاوران وایي.

که چیرې تاسې بې روزګاره یاست او هیڅ عاید نلرئ نو ستاسې قانوني استازی باید له تاسو څخه د هیڅ ډول فیس غوښتنه ونه کړي. که چیرې درڅخه د فیس غوښتنه وکړي، نوتاسې بیا بل وکیل یا قانوني استازی د ځان لپاره ونیسئ.

تاسې کولای شئ د خپل سیمه ایز حقوقي مرکز سره اړیکه ونیسئ څو تاسې ته داسې وکیل پېدا کړي چې د قانوني مرستې له دفتر سره کار کوي. دغه ویبپاڼه http://www.lawcentres.org.uk یا دټولنیزې حقوقي مشورې (Community Legal Advice)ویب پاڼه http://www.communitylegaladvice.org.uk/ وګورئ اویا هم ددې شمېرې سره 0845 345 4345 اړیکه ونیسئ.